# زموږ په راډيوګانو او تلويزيونونو کې دوياندۍ کيفيت ته نه پاملرنه :

ع . ا . ج

په دې وروستيوکې که له يوې خوا راډيوګانې او ټلويزيونونه ډير سوي دي ، خو له بلې خوا يې دڅومره والي په نسبت په څرنګوالي کې ډيرې اندېښنې پيدا کړې دي . زه به لدې تير سم چې ددغه ملت او دغه قوم لپاره دڅه خپرول پکار دي چې نه خپريږي او داڅيزونه چې خپريږي څومره ددغې ټولنې په زيان دي او څومره کار ته اړتيا لري .
زه غواړم په هغه برخه کې چې زه پخپله دادي پکې کار کوم يعني دويندويۍ په برخه کې لږ څه وليکم چې دهمدې راډيوګانو او ټلويزيونونو څومره والي زموږ په ژبه ادبياتو او ويندويۍ څنګه اغيزه کړې ده داخوله لويه سره پريږده چې په کلتور يې څرنګه اغيزه کړې ده .
په کومه ژبه چې نن پرې موږ خبرې کوو ، کوم ويوکي او توري چې موږ نن کاروو دا په کومو ستونزو څرنګه وختونو کې ترموږه رارسيدلي دي . څومره هسکې ټيټې يې ليدلې دي او تراوسه څرنګه روان ترموږه رارسيدلي دي خو اوس يې له راډيوګانو او ټلويزيونونو څخه داسې ساکن او ولاړ اورو ته به وايې چې پرون يې په ماشين جوړ کړي دي .
زياتره ويوکي چې اوس موږ لرو ، له وينو او اورونو په ډکو پيړيو کې تر موږه رارسيدلي او روغ رمټ ... زموږ نيکونه مړه دي او اوس خاورې شوي دي خو ويوکي يې لا تازه ، رغند ګويا او په خپل حال پاتې دي .
خو په خواشينۍ سره به ووايو چې له ځينو راډيوګانو پرته چې څودګوتو په شمير ويندويان چې نه يواځې ښه کارکوي بلکې دستايلو وړدي او په ريښتيا سره يې هم پښتو ته په خپله ويندويۍ سره خدمت کړی دی ، خو تاسې راشئ دتلويزيون برخې او ځينو راډيوګانو ته هلته ويندويي وګورئ چې ژړا مو ورته ونيسي .
که چېرې په يوه ميلمستيا کې کوم څه غلط ولوستل شي ، شايد څومره اهميت ونلري خو د راديو او تلويزيون له ميکروفونه څرنګه ؟ هغه وخت چې دغه غږ ميليونونه کسان اوري هلته څوک حق نلری ويوکي په غلطه توګه ولولي .
خو په خواشينۍ سره چې اوس د پښتو راډيوګانو مسولين دې خبرې ته پام نه کوي ، ددغې لرغونې ژبې په سوچ کې ندي ، ددغه راتلونکي نسل په فکر کې ندي .
دامو بايد په ياد وي چې په همدې ژبه به سباته راتلونکي نسلونه خبرې کوي او دامو بايد په پام کې وي چې راډيوګانې دټولو خلکو لپاره خپريږي او موخه يې هم داده کوم څيزونه چې په راډيو کې ويل کيږي خلک واوري اوکومه ژبه چې له همدې راډيو څخه خپريږي په اوريدونکو نيغ په نيغه اغيزه کوي او هغه دچاخبره نور نو خولې ته لويږي .
کله چې يو ويوکی څوځله غلط ولوستل شو ، يا له مجبورۍ په يوه جمله کې وکاريده دخلکو په تيره بيا دځوانانو په ذهن کې پاتې کيږي ، او له هغه بل نسل ته او که په همدې توګه وړاندې لاړ شي چې همدا اوس روان دی ليرې نده چې داد بېټ ، کروړ ، رحمان خوشحال او ... ژبه به کوم څيز شي .
تاسې دا طلوع ملوع او نه پوهيږم دا فلانی اف ام او فلانی اف واورۍ هلته به ژړا درشي . يوه ښځينه وياندە پيژنم نه پوهيږم چې په طلوع کې ده که په اريانا تلويزيون کې پښتو کله کله څه وايي باور وکړئ چې يوه ورځ مې يې خبرې اوريدې ژړا راغله داسې يې داپښتو سره ترپښو لاندې کوله تابه ويل چې بس تربشل دی غنم دي پرې ورتويږي او سره ټکوي يې .

يوبل وياند هم په طلوع کې خبرونه وړاندې کوي ښه شاعر او پوه هم ځانته وايي تاسې يې ويندويي وګورئ او سم ورته ځير شئ بيا فکر وکړئ چې له لويه سره يې په دې ټولو خبرونو کې په څو پوه شوئ .؟؟ ...
له بلې خوا همدا ټلويزيونونه او راډيوګانې زموږ کلتوراو ژبه انعکاسوي ، خو په خواشينئ سره به ووايو چې داسې ناروغي پکې ګډه سوې ده چې خدای ښه پوهيږي چې که همداسې دوام وکړي څه به موږ ته راپرېږدي او څه ځانونوته .
ددري څانګې ملګري راځي ، خپله ابرو په خپله تويوي ، ښکلې دري ژبه لري ښکلې کلمې لري هغه دچاخبره درنه ټرمينالوجي لري خو دوی راځي په راډيوګانو او ټلويزيونونو کې دايرانيانو پيښې کوي په خپله قضاوت وکړئ چې څومره شرموونکې ده .
زموږ پښتانه هم څه په لره پښتونخوا کې دي څه په بره پښتونخواکې څه هم له بهره خپرونې لري هيڅوک دې ته پام نه کوي چې ويندويي يعني څه ؟ او ويندويي هم يو مسلک دی کنه ؟ خو يواځې بس کاغذ په لاس کې راواخلي او مخ په سټوډيو ورهله کړي .
ډير داسې ويندويان به وي چې په پيسو ، واسطه ياد سياسي ، ادبي ، اقتصادي ، او يا هم د ژورناليسټيکې مخينې له لارې به يې راډيو يا ټلويزيون ته لاره پيدا کړې وي ، خو ډاډه د اوسې چې يواځې دهمدې پوهې يا همدې مخينې په مټ به هيڅکله هم د وياند په حقيقي معنی وياند نسي .
ځينې وخت پروډيوسران يامسولين کله چې څوک د وياند په توګه غور ه کوي وايي چې : اوس بدندی کرار کرار ښه کيږي .
کله به مو په بازار کې بوټونه اخيستي وي دکاندار به درته وايي چې داسمه ده چې دابوټونه مواوس په پښو کې تنګ دي خو کرار کرار او دوخت په تيريدلو سره سميږي او پښې مو يې ځان ته جوړوي او آزاديږي .
خو کوم وياند چې د مايکروفون تر شا کيني بايد وياند وي نه داچې وروسته وياند کيږي . څوک چې د خبرو په ځای چيغې وهي يا هيڅکله هم غاښونه سره نه بيلوي ياهم لکه ماشين په خبرو هغه دچاخبره ګرځي دهيڅ څه په مرسته نشي کولای په آسانئ سره د( وياند ) په واقعي معنی سره وياند جوړ شي .
عجيبه ده هر شغل کتاب ، دورې او ازموينې لري خو ته به وايې چې د وياند د روزلو لپاره دې څيزونو ته اړتيا نه ليدل کيږي ، دا داوس مهال ډير ويندويان چې ددې هنر دعوا کوي ددې خبرې دليل دی .
يووياند چې په هره ژبه ويندويي کوي ، بايد په هغه په بشپړه توګه واکمن وي ، نه داسې لکه زموږ په هيواد کې بس که پښتون دی که فارسي ژبی خوچې هغه متن ولوستلای شي نور يې فکر ندی چې مطلب اوردو دی که پښتو خو بس وياند يې نور معلوم شوی دی .
تاسې خپل زموږ تلويزيونونه راډيوګانې ګورئ او اورئ تاسې يوه ورځ ورته ځير شئ چې په ورځ کې څوځله زموږ په پښتو کې هغه دچاخبره خيږي او څومره پکې پايمال کوي ؟ زموږ په خپلو راډيوګانواو ټلويزيونونو سربيره نور هيوادونه هم پښتو خپرونې لري خو هغوی بيا دافغانستان له دننه ډير په ستونزو اخته دي .
که باور نه کوی د هندوستان پښتو راديو ، دمسکو ، دچين او ځينو نورو راډيوګانو ته غوږ ونيسئ خندا به موراشي . په ياد مووي چې شايد همدا لهجې دهغې سيمې په لهجو چې هلته هغه راديو زياته اوريدل کيږي اغيز وکړي . او داوريدونکو عادت شي .
په هر حال هغه زيانونه چې همدا راډيوګانې او ټلويزيونونه واردوي له هرې بلې وسيلې خطرناک دي .

بې کاره ویندويي نه یواځې په پښتو ژبه ، ادبیاتو او په ورځنیو خبرو اترو بدې اغیزې لري ، بلکې د متن دلیکوالو موخې هم په سمه توګه تر اوریدونکي پورې نسي رسولای .

نو ددې چارې دمخنیوي لپاره دټولو راډیوګانو او ټلویزیونونو له پروډیوسرانو او مشرانو څخه هیله کیږي چې نه یواځې د خبر او خپرونو ځرنګوالي ته ځیر واوسي بلکې دویندویې ځرنګوالی هم په جدي توګه په نظر کې ولري .

ځکه چې دویانددنده یعني تر اوریدونکي پورې دلیکوال دمقصد په ښه توګه ور رسول ، نو راډیواو ټلویزیون چې د ویندویې ځرنګوالی یې کمزوری دی نه یواځې اوریدونکي او لیدونکي نشي پیدا کولای بلکې دوخت په تیریدو سره دهمدې ویندویانو له کبله په ټولنه کې منفور کیږي .

ددې چارې حل آسانه دی ، دښه ویندویی پیدا کیدل آسانه دي او همدارنګه د ښه ویندویی جوړیدل هم آسانه دي خو دا ټول هلته شوني دي چې نیت او هوډ وي ، دزړه له تله له خپلې ژبې او خپل مسلک سره مینه ولرو .

په مینه او مننه .